رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغې (ښځې) لعنت ويلى چې نورو ته اضافي وښتان نښلوي او يا له نورو غوښتنه كوي چې دې ته يې ونښلوي، او هغه چې خالونه وهي او يا له نورو غوښتنه كوي چې خالونه ورته ولګوي

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغې (ښځې) لعنت ويلى چې نورو ته اضافي وښتان نښلوي او يا له نورو غوښتنه كوي چې دې ته يې ونښلوي، او هغه چې خالونه وهي او يا له نورو غوښتنه كوي چې خالونه ورته ولګوي.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څلور ډوله خلكو ته خبراوې كړي چې الله تعالى يې لعنت كړي او د خپل رحمت څخه يې وشړي او لرې يې كړي. لومړى: هغه ښځه چې ځان او يا بلې ښځې پورې اضافي وښتان نښلوي. دويم: او هغه چې له بلې غوښتنه وكړي چې نور وښتان ورته كښردي. دريم: هغه خال لګوونكي ښځه چې د بدن په يو ځاى كې په ستنه خالونه ږدي لكه: مخ، لاس او يا سينه او بيا پكې رانجه او داسې نور مواد ږدي، تر څو هغه ځاى شين واوړي او يا زرغون رنګ ته واوړي؛ دا كار د ښايست په موخه كوي. څلورم: هغه ښځه چې له نورو غوښتنه كوي دا كار ورته وكړي. او دا كړنې له كبيره ګناهونو څخه دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58099